## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه
## تاریخ: ۳۰ ثور ۱۴۰۰
## خبرنامه شماره: ۳

# جلسه هیئت رهبری وزارت امور شهدا و معلولین تدویر یافت



جلسه هیئت رهبری وزارت تحت ریاست صبری اندر معاون برنامه ها و هماهنگی و سرپرست وزارت امور شهدا و معلولین به منظور تسریع روند پرداخت حقوق ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت نظامی تدویر یافت.
در آغاز جمیله نورستانی معاون حمایوی و عرضه خدمات پیرامون بررسی و تدقیق وثایق ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت نظامی به اعضای جلسه معلومات ارایه کرد. خانم نورستانی بیان نمود که تعدادی ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت به دلیل نداشتن تذکره الکترونیکی و عدم بررسی اسناد شان از کمیته بررسی و تدقیق وثایق، روند پرداخت حقوق سالانه را به مشکل مواجه کرده است.
آقای عبدالباری قاضی ستره محکمه نیز در مورد چگونگی فعالیت‌های کمیته تدقیق و بررسی وثایق صحبت نموده و بر هماهنگی مشترک میان ادارات ذیربط تاکید نمود.
در پایان این جلسه چنین فیصله شد که برای اشخاص دارای معلولیت و ورثه‌ی شهدای نظامی که تذکره الکترونیکی اخذ کرده اند و همچنان اسناد شان از کمیته تدقیق وبررسی وثایق تکمیل است، حقوق یک ساله و برای متباقی آنها حقوق شش ماهه تأیه می‌گردد. همچنان به بخش‌های مربوطه هدایت داده شد تا در طول شش ماه آینده، روند بررسی اسناد وثایق را تکمیل کنند.

## خبرتیا




د شهیدانو هغو درنو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ته خبر ورکول کېږي، کومو کسانو چې برېښنايي تذکرې اخیستې وي او اسناد يې هم د کتنې او سمونې کمیټې څخه تایید شوي وي، بیړه د وکړي وزارت ته دې تشریف راوړي او په برېښنايي سیستم کې د ځان ثبت کړي، ترڅو حقوق ورته حواله شي.
هغه کسان چې په برېښنايي سیستم کې ثبت نه دي، حقوق يې ځنډول شوي او تر راجستر وراندې ورته نه حواله کېږي.
د لا زیاتو معلوماتو لپاره له 717 شمېرې سره اړیکه کې شئ.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له همکارو موسسو سره د همغږۍ ناسته وکړه



د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د برنامو او همغږۍ مرستیالۍ صبرۍ اندړ په مشرۍ د وزارت په غازي امان الله خان تالار کې د معلولیت په برخه کې له همکارو نړیوالو او کورنیو موسسو سره د همغږۍ ناسته وکړه. د ناستې په پیل کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت تخنیکي سلاکار حبیب خان ځاځي، ګډونوالو ته د معلولیت ملي ستراتیژۍ په تړاو په لنډ ډول معلومات ورکړل او د پلي کولو په برخه کې یې له ملاتړو موسسو د همکاریو غوښتنه وکړه. د ځاځي په خبره، چې د معلولیت ملي ستراتیژۍ په پلي کولو سره به د معلولیت لرونکو وګړو د روغتیا، زدکړو، کارموندنې، فزیکي لاسرسي، ټولنیز ګډون، ورزش، بیاپیاوړتیا، ځان بسیاینې او عدالت ته د لاسرسي په برخو کې د ستونزو هواري سبب وګرځي. د ملاتړو او همکارو موسسو استازو هم هر یوه په خپل وار د همغږۍ په زیاتوالي، همکارۍ او ګډکار ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه، چې له وزارت سره په همغږۍ به د معلولیت لرونکو وګړو د ژوند اسانتیاوو برابرولو لپاره په ګډه کار او هڅو ته دوام ورکوي. دوی د معلولیت ملي ستراتیژۍ د پلي کولو او نورو اړونده خدمتونو ترسراوي په تړاو د دولت په کچه، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ته ځانونه مسوول وګڼل او په دې هکله یې د هر ډول ژمنتیا ډاډ ورکړ. په پای کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د برنامو او همغږۍ مرستیالې صبرۍ اندړ د بحث په ډلبندۍ سره وویل، اوسمهال تر بل هر وخت په افغانستان کې د ملاتړو نړیوالو او کورنیو موسسو او مرستندویه بنسټونو سره همغږي زیاته شوې او د لا پیاوړتیا لپاره به یې مهم ګامونه پورته شي. نوموړې زیاته کړه، چې لا هم په ځینو برخو چې ستونزې شته او دا ډول پرله‌پسې ناستې، د ستونزو شریکول او د نظرونو تبادله به یادې ستونزې راکمې او حل کړي. آغلې اندړ معلولیت لرونکو وګړو ته د خدمتونو وړاندې کول او ستونزو ته رسیدنه د وزارت کاري لومړیتوبونه وګڼل او په دې تړاو یې د هر ډول لازمو اجرااتو د ترسراوي ژمنه وکړه.



## د سیدالشهدا ښوونځي او لوګر پېښو د شهیدانو روح ته دې دعا او ختم مراسم ترسره شول



د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د لوګر په مرکز پل علم کې د کانکور ازموینې پر ګډون کوونکو او د کابل دشت برچي کې د سیدالشهدا لیسې پر زده کوونکو د تروریستي بریدونو د معصومو شهیدانو روح ته د دعا او فاتحې مراسم ترسره کړل. دغه مراسم د وزارت د ملاتړ او خدمتونو وړاندې کوونکې مرستیالې جمیلې نورستانی، رییسانو او د وزارت کارکوونکو لخوا ترسره شول، چې پکې د وروستیو پېښو شهیدانو ته د برین جنت او ټپیانو ته د بیړنۍ روغتیا لپاره دوعا وشوه.



دغه راز د قران عظیم الشان د ختم ګډونوالو په هېواد کې د تلپاتې سولې او ثبات د تامین په خاطر د خدای تعالی په دربار کې دعا وکړه. ګډونوالو دواړه پیښې ډېری زیاتې دردوونکي وبللې او ټینګار یې وکړ، چې په دې مبارکې روژې میاشت کې باید د ټولشموله او تلپاتې سولې لپاره دوعا وکړو او همدارنګه د ملي یووالي د ټینګښت او د ملي ارزښتونو څخه د دفاع په پار باید له خپلو امنیتي او دفاعي ځواکونو سره په څنګ کې ودرېږي او د دوښمن په فریب، چل او دسیسو ونه غولېږو.

## به خانواده‌های قربانیان مکتب سیدالشهدای غرب کابل کمک توزیع شد



وزارت امور شهدا و معلولین به همکاری موسسه (کمک) برای (۱٤) خانواده قربانیان مکتب سیدالشهدا غرب کابل (۱۳) قلم مواد خوراکی و غیر خوراکی توزیع نمود. این کمک ها با حضور بانو صبری اندر معاون برنامه‌ها و هماهنگی و سرپرست وزارت امور شهدا و معلولین و نماینده‌ی موسسه نامبرده توزیع گردید. خانم اندر در جریان توزیع این کمک‌ها، حادثه‌ی غرب کابل را متاثر کننده خوانده و با بازماندگان شهدا اظهار همدردی و برای زخمیان شفا عاجل استدعا نمود. خانم اندر تاکید نمود که وزارت امور شهدا و معلولین تلاش می نمایند تا با هماهنگی نهادهای بین المللی زمینه کمک‌های بیشتری را برای قربانیان جنگ فراهم نمایند. همچنین معاون برنامه‌ها و هماهنگی به بخش‌های مربوطه هدایت دادند تا تسهیلات لازم را در توزیع بورسیه‌های خارجی و مخصوصا بورسیه اندونیزیا به قربانیان و ورثه‌ی شهدای مکتب سیدالشهدای برچی و رویداد پل‌علم ولایت لوگر در نظر گرفته و با آنها همکاری همه جانبه صورت گیرد.



ریاست اطلاعات و ارتباط عامه
تاریخ: ۳۰ ثور ۱۴۰۰
خبرنامه شماره: ۳

## د کوچني اختر د را رسیدو په مناسبت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د رهبري هیئت او کارکوونکو مبارکۍ پیغام

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت رهبري هیئت او کارکوونکي د هېواد او نړۍ ټولو مسلمانانو ته د کوچني نېکمرغه اختر مبارکي وايي، او هيله من دي، چې دا اختر په هېواد کې د تلپاتې سولې او امن سبب وګرځي. له بده مرغه په افغانستان کې بيا هم په داسې حال کې کوچنی اختر نمانځو، چې زياتره هېوادوال مو د غم په ټغر ناست دي او د خپلو خپلوانو په غم وير کوي. د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت رهبري هيئت په هېواد کې د وروستيو پېښو له امله غمجن دي او يو ځل بيا هم د جنګ قربانيانو کورنيو او د شهيدانو ورثې ته د ډاډګیرنې او خواخوږۍ مراتب وړاندې کوي. له شک پرته، چې د افغانستان دوښمنان همېشه کوښښ کوي، چې د ويرې او ډار په اچولو سره د افغانانو ترمنځ بې اتفاقي ته لمن ووهي. خو د افغانستان ټولو قومونو په ډېرې ځيرکتيا سره د دوښمنانو دسيسو ته نه وويل او د يو موټي ملت په توګه له ملي ارزښتونو او ملي ګټو څخه دفاع کوي.

د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت زياتره وخت د مطبوعاتي اعلاميو په خپرولو سره، د اختلافي مسايلو د سوليز حل، د وژنو او قتلونو مخنيوي وړانديز کړی او د جګړې له ښکيلو لوريو يې غوښتنه کړې، چې خپلې موخې دې د خبرو او تفاهم له لارې ترلاسه کړي. ځکه د جنګ دوام، ډار او وينې بهونه به هېڅکله هم کومه ډله بريا ته ونه رسوي او د يو موټي، سرلوړي او اباد افغانستان د جوړيدو مخه نه شي نيولی. د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت ژمن دی، چې د معياري او اغيزناکو خدمتونو په وړاندې کولو سره د معلوليت لرونکو وګړو او شهيدانو ورثې لپاره کار وکړي او د فساد په له منځه وړلو، د روڼتيا ټينګښت، د خدمتونو برېښنايي کول او له اړوند ادارو سره په همغږۍ؛ د سرپناه، د کابل ښار په بېلابېلو برخو کې د کاري غرفو عادلانه ويش او نورو برخو کې د ستونزو هواري په موخه جدي هڅې او کار وکړي. همدارنګه دغه وزارت د معلوليت لرونکو وګړو د ټولګټو ځايونو لپاره د فزيکي لاسرسي، کارموندنې، ټولنيز ادغام، زده کړو، روغتيا او حرفوي زدکړو په برخو کې لازم ګامونه پورته کړي، چې تاسو يې هم د ټولنيزو شبکو له لارې شاهدان ياست. همداراز وزارت له نړيوالو مرستندويه موسسو سره د ګډکار او همغږۍ پر مټ د جنګ له قربانيانو سره د مرستو را جلبولو هڅه کړې، چې له ښه مرغه د روژې مبارکې مياشت کې زياتره هېوادوال له يادو مرستو برخمن شول. له فرصت نه په ګټنې د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت رهبري هييت له ټولو هغو نړيوالو خيريه موسسو څخه، چې د روژې مبارکې مياشت کې يې د جنګ له قربانيانو او د شهيدانو وارثينو سره مرستې کړې، مننه او قدرداني کوي.

د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت رهبري هيئت د اصلاحاتو راوړلو او معياري خدمتونو وړاندې کولو تر څنګ، د شهيدانو ورثې او معلولينو سره ژمنه کوي، چې د هغوی غوښتنو او ستونزو ته د رسېدنې په لاره کې به ځنډ ونه کړي او د حقونو د ورکړې په برخه کې به د شته ستونزو د هواري لپاره هېڅ ډول هڅې دريغ نه کړي.

## شهدا و ناگرانلر نینگ وزارت رهبریتی کارمندلر بیلن رمضان هییتنی قوتلوغلب برنامه سینی اوتکزیلدی



شهدا و ناگرانلر نینگ وزارت رهبریتی آخیرگه بولگن حادیثه ده شهیدلرنینگ روح لریگه دعالر قیلیب رمضان هییتنی وزارت ایشچیلریگه تبریکله دی . صبری اندر شهدا و ناگرانلر نینگ سرپرست وزیری و هماهنگ قیلیش اورینباسری وزارت نینگ ایشچیلریگه رمضان آیی چیککن قیینچیلیکلریدن تا شهیدلر ورثه حقوق و امتیاز لرینی، الیش اوچون قیلگن خدمت لریدن قدردانلیک قیلدی. وزارت نینگ هماهنگ قیلیش اورینباسری ایشچیلریدن ایسته دی بار امکانیت فایده لنیب مراجیعین لرگه اوز وقتیگه یخشی راق خدمت قیلسن دیدی. جمیله نورستانی وزارت نینگ حمایه قیلیش اورینباسری ایتیشیچه همه تلاش میز شو کی شهیدلر ورثه سی حقوقلر و امتیازلرینی اوز وقتیگه بیریش نی تاکید قیلدی، چون اولر حقوقلر و امتیاز الیش کیرک دیدی.